مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۹/۲۶

# پاکستان له طالبانو څه غواړي؟

د۲۰۰۱ کال د نومبر په میاشت کي د امریکا اومتحدینو له لوري پر افغانستان باندي د یرغل او د طالبانو د سقوط څخه وروسته، طلبانو زیات و کم ۲۰ کاله د پاکستان په غېږ کي آرامي شپي ورځي تیري کړي او د پاکستان حکومت او د هغه هیواد پوځی استخباراتو هر ډول آسانتیاوي ورته برابري کړي وې. طالبانو د پاکستان له خاوري څخه پر افغانستان باندي د پوځي عملیاتو او ځان مرګو حملو لپاره کار اخیست. یه بیغمه زړه یي په افغانستان کي کوکنار کرل او له دې لاري یې په کال کي له شپږو بیلیونو ډالرو عاید څخه د خپلو پوځي عملیاتو د تمویل لپاره کار اخیستی او پر دې برسېره یې له کلیوالو څخه د جهاد په نوم مالیات او عشر تولاوه.

په ۲۰۲۰ کال کي د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې موافقتنامه لاسلیک سوه او د هغي موافقي له برکته یې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته، چي شل کاله یې عمر درلود، په ۱۵ ورځو کي سقوط ورکړ. طالبانو داسي برى ترلاسه کړ چي حتی د دوی خپلو مشرانو ته هم خوب غوندي ښکارېدی. د پاکستان حکومت او پوځي استخباراتو د دې بري جشن ونیوی او په ښکاره یې خوښی وکړې.

داسي ښکارېدله چي طالبان او پاکستان به تر ډېرو کلونو پوري ډېر خواږه اړیکي ولري. ځکه چي د طالبانو د کابینې تقریباً ټولي یا لږترلږه تر ټولو مهمي ټاکني د پاکستان د پوځي استخباراتو په امر ترسره سوي وې.

خو د طالبانو او پاکستان د حکومت ترمنځ د عسل میاشت ډېره لنډه وه او پاکستان پرهغي ډلي چي پخپله یې قدرت ته رسولي وه حملي پیل کړې. دلته باید دا خبره هېره نه کړو چي د پاکستان په توپچي او هوایی حملو کي طالبانو ته هیڅ وخت تلفات نه دي رسېدلي او ټول ځاني او مالي تلفات، د تل په څېر، بې دفاع ملکي وګړو ته متوجه دی.

د پاکستان حملو او د طالبانو متقابلو عملیاتو په لومړي سر کي د سرحدي نښتو شکل درلود او چنداني تلفات یې نه لرل خو په روان کال کي یې ډېر جدي شکل اخیستی او تلفات یې ډېر زیات دي. پاکستان د روان کال د مارچ پر شپاړسمه د کابل په ښار کي د امید پر روغتون باندي په یوه سخته بمباري کي زیات و کم ۴۰۰ ناروغان شهیدان کړل. دغه راز یې د جون پر ۲۷مه د پکتیا د ځمکنیو پر سیمه باندي یوه درنه بمباري وکړه او څه دپاسه سل تنه یې ټپیان او شهیدان کړل. د سپتمبر پر شلمه یې پر کنړ، پکتیکا او پکتیا باندي بمونه وغورځول او د همدغي میاشتي پر ۲۴مه یې پر کنړ، پکتیکا، خوست او کندهار باندي شاوخوا لس هوایي حملي وکړې. پر کندهار باندي یې، چي د طالبانو د قدرت مرکز دی، دونه درانه بمونه وغورځول چي د ښار هره سیمه یې جلا جلا ولړزوله. د یوه حساب له مخي، پاکستان په تیرو اتو میاشتو کي پر افغانستان باندي شاوخوا ۸۰۰ د ډرون او توپچي قواوو حملي کړي دي.

سوال دا دی چي پاکستان ولي پر افغانستان، یا د طالبانو پر رژیم باندي حملي کوي؟

پاکستان ادعا کوي چي طالبانو په خپله خاوره کي تی ټي پي یا پاکستاني طالبانو ته ځای ورکړی دی او هغوی د افغانستان له خاوري څخه په پاکستان کي ترهګریز عملیات کوي. طالبانو هر وخت دا ادعاوي رد کړي دي او وایی چي پاکستان د خپلو بې امنیتیو پړه پر نورو اچوي.

خو که موږ دې حقیقت ته وګورو چي د ټي ټي پي مشر ملا فضل الله په ۲۰۱۸ کال کي، د افغانستان په خاوره کي، د امریکا د ډرون په حمله کي قتل سو او وروسته د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۳۱مه ایمن الظواهري د حقانیانو په میلمستون کي بیا هم د امریکا د ډرون په حمله کي ووژل سو؛ نو بیا خو د طالبانو لپاره د منکرېدلو ځای نه پاتیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ټي ټي پي په ۲۰۰۷م کال کي جوړ سو او په ۲۰۱۳ کال کي يې له القاعده سره تماسونه ټينګ کړي دی. پاکستاني او بين المللی استخبارات ادعاکوي چي هغوی زياتره ګډ عمليات کوي.

طالبان، ټي ټي پي، القاعده، او داعش خراسان، چي دم ګړی په افغانستان کي فعاليتونه کوي، د عقايدو او پوځي عملياتو په برخه کي چنداني توپير نه سره لري. منتهی د طالبانو هدف په افغانستان کي، د دوی په اصطلاح، د اسلامي نظم ټينګول وه او ټي ټي پي غواړي چې همدغه نظام په پاکستان کي ټينګ کړي. البته القاعده تر دې دواړو ډلو پراخ اهداف لري او هغوی له بين المللي امپرياليزم او صهيونيزم سره په جګړه لګيا دي .

داعش، چي له لويه سره په سوريه کي منځته راغلی دی، په سوريې او عراق کي او داعش خراسان په افغانستان، پاکستان، ايران او منځنی اسيا کي د اسلامي نظم د ټينګولو لپاره مبارزه کوي. دوی ځلور واړه ترورريستي ډلي دي. په افغانستان کي د طالبانو د ځانمرګو حملو په اثر زرګونه بې ګناه او بې دفاع شهيدان موږ ټولو ته په زړه دي.

اوس حاضر طالبان، د کوزي پښتونخوا په اصطلاح، په دوو کي ګير دي. که له ټي ټي پي او القاعده سره خپلو اړيکو ته دوام ورکوي نو د پاکستان پلمه به ورته جوړه وي او، د امريکا په شمول، ټوله لوېديځه نړۍ به پاکستان پر افغانستان باندي په حملو کي پر حقه بولي او وايی به چي پاکستان له خپل ځان څخه د دفاع کولو حق لري. او که له ټي ټي پي او القاعده سره اړيکي شلوي او هغوی له خپلي خاوری څخه باسي؛ دا کار يې ځکه په وس پوره نه دی چي ښايی ډېر زيات نظامي کسان له طالبانو څخه بېل او له داعش او القاعده سره يوځای سي. علت يې دادی چي دي دواړو ترورريستي تنظيمونو، له طالبانو سره زيات و کم شل کاله پوځي او مالي مرستي کړي او هغوی يې د پاکستان په خاوره کي خوندي کړي او پوځی روزني يې ورکړي دي.

زما په عقيده، طالبان پرته له دې چي له دې دواړو ترورريستي موسسو سره تماسونه وشلوي بله لاره نه لري. که طالبان همدغه اوسني حالت ته دوام ورکوي نو ښايی حالات تر دې هم خراب سي چي مالي او ځاني تاوان به يې ملکي وګړو ته متوجه وي.

که څه هم چي د طالبانو له رژيم سره د اجتماعي، سياسي او اقتصادي ستونزو په شمول، ټولي بدۍ ملګري دي؛ خو په دې وروستيو دريو کلونو کي وطن ته له ايران او پاکستان څخه د شپږو ميليونو افغان مهاجرو له ستنېدلو سره ستونزي داسي حال ته رسېدلي دي چي که وضع په همدغه شکل دوام وکړي نو خدای مه کړه يوه لويه بشري فاجعه به منځته راسي.

د افغانستان نفوس، چي مخکي يې ۳۷ يا ۳۸ ميليونه اټکل کېدی، د نويو مهاجرينو له ستنېدلو سره ۴۳ ميليونو ته رسېږي. وطن ته ستانه سوي مهاجرين په ډېر بد حالت کي ژوند کوي ځکه چي د پاکستان فاسد او جابر نظام نه يوازي دا کسان، د ټولو بشري حقوقو او اصولو په خلاف، په زور او اکراه ايستلي دي بلکه پوليسو يې له جيبونو څخه نغدي پيسي او حتی د لاسونو ساعتونه ورڅخه اخيستي او په اصطلاح لوڅ لېږ يې خوشي کړي دي.

د ملګرو ملتونو احصاييه وايی چي په ۲۰۲۵ کال کي د افغانستان څه باندي نيمايی نفوس يا ۲۲.۹ ميليونه انسانان د ملګرو ملتونو د موسسي د بېلو بېلو څانګو په مرسته ژوند کاوه. د همدغي موسسي د اټکل له مخي د افغانستان په سلو کي ۴۸ وګړي د بې وزلی تر کرښي کښته Under Poverty Line شرايطو کي ژوند کوي. دا هغه حالت دی چي يو څوک په يوه ورځ کي تر يو ځل زيات د خوړلو لپاره څه نه لري. نه سرپناه لري، نه دارودرمل ورته رسېږي او نه د زده کړي لپاره مناسب شرايط او امکانات لري. د ملګرو ملتونو احصاييه ښيی چي په افغانستان کي تقريباً ۱۵فيصده انسانان بېکاره دي. دا شمېر ځکه مخ په زياتېدلو دی چي طالبانو ټول اداري، مسلکي، فرهنګي، اجتماعي او پوځي کارونه ملايانو ته سپارلي او د ملايانو شمېر ورځ تر بلي زياتېږي او په نتيجه کي نور نور کسان بايد خپل ځايونه طالبانو ته پرېږدي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د جنجال او د پاکستاني بمباريو دوام نه يوازي د افغانستان ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړوي بلکه له اقتصادي پلوه هم ډېر زيات تاوان ورته رسولای سي. افغانستان دغه ګړی په کال کي ۱.۶ بيليونه ډالره صادرات لري او له دغه رقم څخه پاکستان ته د ۶۵۹ ميليونه ډالرو په ارزښت مالونه، چي زياتره يې تازه اووچه مېوه او نور اومه مواد دي، صادورېږي. د جنګ او بمباريو د دوام په صورت کي به سرحدونه همداسي بند پاته وي او د دې سرحدونو د بندېدلو تاوان هم غريب کارو او هم لويو او وړو تاجرانو ته رسېږي او هم په عمومي صورت د افغانستان پر اقتصاد باندي ډېره ژوره منفی اغېزه کوي. د دې ترڅنګ لا، د طالبانو د رژيم له برکته، په هيواد کي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ښو او لایقو ډاکټرانو شمېر تر بل هر وخت لږ سوی دی او خلک مجبور دي چي د دارودرمل لپاره پاکستان ته ولاړ سي. د سرحدونو د تړل کېدلو په صورت کي دا عامو وګړو ته یوه بله صدمه ده.

په مقابل کي پاکستان په کال کي د ۳۶.۷ بیلیونه ډالرو په ارزښت صادرات لري چي له هغې جملې څخه ۱.۶ بیلیونه مالونه، چي له ځینو مېوو پرته نور ټول صنعتي مواد دي افغانستان ته صادروي چي د سرحدونود بندېدلو په صورت کي د افغانستان په تناسب ډېره لږه صدمه ورته رسیږي.

دا جنګ په هر صورت د افغانستان په تاوان دی؛ خو څرنګه چي طالبانو ته يې هیڅ صدمه نه رسیږي نو ګومان نه کیږي چي هغوی به په دې برخه کي داسي لاره واخلي چي هغه به د سیمي او افغانستان په ګټه تمامه سي.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ